# په افغان شفاهي کلتور کې مهاجرت: ننګونې او نیمګړتیاوې

**لیکوالان:**

داکتر بلقیس علوي جعفری،

داکتر لیزا شوسټر

او

محمد ریاض شینواری

خپرندوی: په کابل پوهنتون کی د افغانستان د
معلوماتو د زیرمي مرکز

نیټه: د لیندۍ د میاشتي اوومه د۱۳۹۶ کال

**لنډيز:**

زمونږ ددې مطالعې تمرکز په افغان شفاهي کلتور کې ( لکه: شعرونه، کيسې، متلونه او سندرو کې ) د مهاجرت په موضوع دی. زمونږ موخه دا ده چې هغه کلتوري شرايط راوسپړو چې افغانان په کښې ژوند کوي، د دوی راتلونکې منعکس کوي او پريکړه کوي چې آيا دوی مهاجرت وکړي يا نه. په دې مقاله کې مونږ د ملي او نړيوالو پوهانو تګلارې ګورو کومو چې افغان شفاهي کلتور مطالعه کړی دی. مونږ ددې مطالعې په ترڅ کې بيلابيلې تګلارې وليدې، افغان پوهان دی ته اړ دي چې د شعرونو، کيسو او د متلونو ټولګې ددې لپاره جوړې او وړاندی کړې چې ولوستل او وساتل شي. ددې پر خلاف نړيوال پوهان په افغان ټولنه کې د شفاهي کلتور په رول باندې تمرکز کوي، هغه که تاريخي، سياسي ، او يا ټولنيز وي.مګر وړاندی له دينه به مونږ د څيړنې ميتودولوژې او د څيړنې له ننګونو څخه پيل وکړو. مونږ دغه مقاله د ځينو مفکورو او نظريو د خپل منځي اړيکو او کارولو په اړه او لومړنيو موندنو ته په کتلو سره تکميله وو.

ACKU

**پیژندنه:**

دغه مقاله په حقیقت کې د افغانانو د شفاهي کلتور د څېړنو په اړه یوه لنډه کتنه ده چې دا د څېړنیزې پروژې " په افغان شفاهی کلتور کې د مهاجرت انځور" لومړی پړاو دی. مګر دې ته تر رسېدلو مخکې، مونږ د څېړنې مېتود او د معلوماتو د راټولولو مېتود او د ادبیاتو راټولولو ننګونو په اړه، لنډه کتنه کوو. زمونږ څېړنه په اساسي توګه په شفاهي کلتور ( شعرونو، نکلونو ، متلونو او سندرو) باندې تمرکز کوي. د دې لپاره چې په هغو کلتوري شرایطو پوه شو کوم چې د پالیسي جوړونکي او احتمالي مهاجرینو لخوا په مهاجرت باندې بحث کیږي. په بل ځای کې مونږ خپله میتودولوژي تشریح کوو او د خپلو راټول شویو معلوماتو شننه کوو. په دې مقاله کې مونږ د افغان شفاهي کلتور شننه د ملي او نړیوالو پوهانو ترمنځ سروې کوو. مونږ د افغان شفاهي کلتور په اړه د ملي پوهانو له مطالعو څخه پیل وکړ، خو مونږ د ادبیاتو( د شفاهي ادب ترڅنګ د لیکلي ادب) تحلیل هم جاري وساته. بیا مونږ د کیسو، شعرونو او سندرو په ډګر کې د نړیوالو پوهانو کارونو ته مخه کړه.په پای کې مونږ په لنډه توګه په افغان شفاهي کلتور کې د مهاجرت څېړنې لومړی لاسته راوړنې وړاندې کوو.

**د څېړنې مېتود: د غوره کولو لارې چارې او د ډاټا راټولول:**

له ټولو نه مخکې مونږ باید په دې وپوهیږو چې عامه کلتور څه ته وایي. د لوړ او ټیټ نامتو کلتور ته په نه کتلو سره ، مونږ په دې پروژه کې په هغه هنري او فرهنګي آثارو باندې خپل پام متمرکزه کوو، کوم چې د خلکو له خوا رامینځ ته شوي او کوم چې د خلکو د مینې لامل ګرځي، هغه ټول کارونه چې په افغان ټولنه کې یو دریځ مومي او هغه چې اوربدل کیږي او یا کتل کیږي، د دې څېړنې موخه ده. مونږ عامه کلتور مطالعه کول غوره کړی دی، ځکه چې دې کې د خلکو هیلې، ډار ، خوښې او غمونه څرګند شوي دي. ( Margaret Mills, 2006)، امریکایي فوکلوریسټ، ویلي دي چې د لیکلي ادب په پرتله د شفاهي ادب دریځ ځایي حالاتو ته ډېر خوځنده او ځواب ویونکی دی.

مونږ د افغانانو لخوا رامینځته شویو کلتوري او فرهنګي کارونو باندې تمرکز کوو، ځکه چې شفاهي کلتور ته هغه خلک زیات لاسرسی لري چې بېسواده دي، یا یې سواد لږ دی، او یا دا چې د کتابونو له لوستلو سره مینه نه لري. البته مونږ د لیکلي ادب هغه برخه چې د شفاهي ادب یوه برخه ګرځېدلې هم په دې څېړنه کې شامله کړې ده. زمونږ موخه د افغانانو له کلتور نه څه ده؟ باید ووایو چې زمونږ تمرکز په پښتو او فارسي ادب دی ځکه چې دا دوه ژبې په ټول هیواد کې په پراخه کچه ویل کیږي.

مونږ د ډاټا راټولولو لپاره مختلف میتودونه وکارول: د شعرونو راټولې شوې ټولګې، فولکلوریکې کیسې او متلونه، ادبي مجلې او انترنیتي سایټونه چې د فولکلوریکو کیسو، متلونو او د شعرونو ټولګې راټولوي او خپروي او دغه راز د اورېدو او لیدو رسنۍ لکه راډیو او تلویزیون. د دې سربېره، مونږ د ګډونوالو شریکه مشاهده هم ترسره کړه. د خلکو د ورځني ژوند لیدنه په کوڅو اوعامه ترانسپورت کښې، میلمستیاوو او غونډو ته تلل او کتل ډاټا ته د لاسرسي په مېتودونو او لارو چارو کې راځي. دا ټول دریځونه مونږ ته اجازه راکوي چې وګورو خلک په ورځني ژوند کې کومه سندره، شعر یا متل کاروي. په بله وینا، زمونږ څېړنه تر ډېره بریده ایتنوګرافیکي هم ده.

د تحلیل د مېتود په اړه، پدې څېړنه کې زمونږ تګلاره ټولن پوهنیزه ، ژبپوهنیزه او ادبي ده. مونږ د محتوا د تحلیل بېلابېلې لارې کاروو. برسېره پر ټولنیزو تاریخي اړخونو، د مهاجرت په اړه د ادبي او هنري پنځونو د رامنځته کېدونې

ACKU

هم په پام کې نیسو. له دې کبله، د دې آثارو محتوا او هغه څه چې په دې متنونو او اسنادو کې د افغاني ټولنې په کلتور کې د مهاجرت د دریځ او اهمیت په باب وایي، زموږ د پام وړ دي.

**د څېړنیزو ادبیاتو د راټولولو ستونزې:**

علمي او اکاډمیکو ادبیاتو ته تنقیدي کتنه د هرې څېړنې یوه ضروري او بنیادي مرحله ده ځکه چې هر څېړنیز اثر باید پر مخکنیو لیکنو باندې ولاړوي. کره کتنه مونږ ته اجازه راکوي چې خپله څېړنه د نورو پوهانو د کار په تړاو ځای په ځای کړو، او مناسب میتودونه، مفاهیم، نظریې او له مناسب تحلیلي چوکاټه خبر شو. دا ټول مونږ سره مرسته کوي چې په ادبیاتو کې تشې په ګوته کړو او پر خپله څېړنه باندې متمرکزه شو.

زمونږ د څیړنې تر ټولو لویې ننګونې تخنیکي او د سرچینو په اړه دي. په افغانستان کې نړیوالو کتابتونونو ته لاس رسی ډېر محدود دی او دې آثارو ته لاسرسی هم ممکن نه دی. په افغانستان کې یواځې یو کتابتون شته چې مونږ د څېړنو سرچینو ته په دیجیتل توګه لاس رسی لرلی شو او هغه په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز دی.

زمونږ د څیړنی دویمه ننګونه د افغان عامه کلتور په اړه د تحلیلي کارونو نشتوالی دی. د افغان شفاهي کلتور په اړه نسبتاً لږ تحلیلي علمي کارونه شتون لري. کوم تحلیلي کارونه چې ترسره شوي هم د شفاهي ادب په پرتله پر لیکلي ادب باندې تمرکزکوي. بله لویه ستونزه چې په افغانستان کې د څیړنیزو ادبیاتو د پلټنی په برخه کې ده هغه د ژباړې د صنعت نشتوالی دی. د افغانستان په باب زیات کتابونه په بهرنیو ژبو لیکل شوي( چې دې کې ځینې افغانانو هم لیکلي دي) او دا د افغانانو په ملي ژبو(دري او پښتو) نه دي ژباړل شوي. هغه کسان چې په یوه اروپایي ژبه ونه پوهیږي، د افغانستان د ټولنې او فرهنګ په باب د موجوده معلوماتو او علم نه بې برخې دي.

**د افغان شفاهي کلتور په اړه د افغانانو تحصیل : د لمانځلو او شنني ترمنځ**

که څه هم په افغاني شاعری او کیسو ډیری کتابي ټولګي او مجموعې شته، خو په ملي ژبو دري او پښتو کې په دې باندې علمي( اکاډمیکي) ادب ډیر کم دی. په پښتو کې ځنې تحلیلي کارونه د افغان پوهانو لخوا ترسره شوي، خو هغه هم په انګریزي (Rahim 2017) او یا په فرانسوي (Majrouh,2003) کې خپاره شوي دي. داسې ښکاري چه په پښتو شفاهي کلتور باندې زیات علمي کار تر ډېره د کوزې پښتونخوا څیړونکو ترسره کړی چې هغه که په پښتو کې دی او که په انګریزی کې دی ( جهان، ۱۹۹۳؛ شاهین، ۱۹۹۴؛ Khalil,2011؛ khan et all, 2011؛ sanauddin, 2015) او ډیری په لنډیو باندې تمرکز کوي، چې لنډ اوډ دوو مصرعو قوي شعرونه دي. اوله مصرعه یی نهه سیلابه وي او دویمه مصرعه یی ۱۳ سیلابه وي، چې د مینې،عزت، جنګ او بیلتون نه بحث کوي.

دغه پوهان ټول دې ته اشاره کوي چې د پښتنو د ژوند داسې یو اړخ نشته چې د لنډیو د موضوع نه بهر وي، ډیری یې هر اړخیزې او له ډیرو زیاتو موضوع ګانو نه بحث کوي. ددې وجهې نه لنډۍ د هغو د پاره د خوښې صنف و چا چې د افغان کلتور او نورمونو مطالعه کړې (Khan et all, 2011; Khalil,2011). په دري[1] ژبه ډیرې داسې مطالعې شته چې د شفاهي کلتور ( ادب ) په بیلابیلو شکلونو لکه: کیسو، سندرو او د دوبیتي ګانو ( د فارسي شاعرۍ لنډ شکل چې

---

۱ د ۱۹۶۴ نه را پدیخوا په افغانستان کې ویونکي فارسي ژبه د دري په نوم وپیژندل شوه د فارسي پرخلاف چې په ایران کی ویله کیږي. دا د فارسي دوه برخې دي، خو بیلې ژبې نه دي. [1]

دوې یا څلور مصرع لري) په ادبي او ژبني تحلیل باندې تمرکز کوي. په هغو پوهانو کې چې کومو د ژبپوهنې لیدلور اخیستی په ځینو فارسي ویونکو سیمو کې په بیلابیلو لهجو او یا په اصطلاحاتو باندې تمرکز کړی دی، لکه: هرات ( آصف فرحت، ۱۹۷۶)، بدخشان او هزاره جات ( شهرستاني، ۱۹۸۲).

یو شمیر لیکوالانو ( هروي، ۱۹۶۵؛ شعور، ۱۹۷۴؛ هاشمي، ۲۰۱۶) د ایران، افغانستان او تاجکستان شفاهي ادب مقایسه کړې دی. هروي ( ۱۹۶۵) او عبدالقیوم قویم ( ۲۰۱۰) د افغاني نکلونو اتلان د ایراني او تاجکي اتلانو سره مقایسه کړي دي. نیلوفر هاشمی (۲۰۱۶) د ایران او د افغانستان د دوبیتیو، متلونو او( په نظر راتلونکو) انځورونو مقایسه کړې ده. دا مطالعې د فارسي ویونکو سیمو مشترک کلتوري ځانګړتیاوې څرګندوي. په هر صورت، لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه ټینګار ددې فورمونو د تحلیل پر ځای، په راټولولو او لمانځلو باندې دی.

**د ولسي شعرونو، نکلونو او متلونو ټولګې:**

په عمومي توګه د افغان شفاهي کلتور په اړه د افغان پوهانو کار د شعرونو، متلونو او د نکلونو په راټولولو پورې محدود و د دې دپاره چې دا وساتل شي، خپاره او ولمانځل شي.( بینوا، ۱۹۵۸؛ جاوید، ۱۹۶۴؛ قویم، ۱۹۷۳؛ شهرستانی، ۱۹۷۳؛ شعور، ۱۹۷۴؛ لایق، ۱۹۸۲؛ رحمان، ۱۹۸۴، ۱۹۹۵; Majrouh, 2003، خاورې، ۲۰۰۳؛ ګل نوري؛ ۲۰۰۸: سمنګاني، ۲۰۰۸؛ شهراني ۲۰۰۸، ۲۰۱۰). په ځینو مواردو کې د ټولګو ایډیټرانو (مؤلفینو) د یوې ځانګړې سیمې څخه د شفاهي کارونو په راټولولو باندې تمرکز کړی دی. د بیلګې په توګه: د دوبیتیو ځینې ټولګې د بدخشان، تخار، هرات ، غور ، پنجشیر، غزني یا هزاره جات څخه دي.( شهرستاني ، ۱۹۷۳؛ خاورې، ۲۰۰۳؛ شهراني ، ۲۰۰۸؛ ساقي، ۲۰۰۹: احدي، ۲۰۱۶). نورو د شپنو ( شعور، ۱۹۷۴) یا د ماشومانو( حنفی، ۱۹۷۴) سندرې راټولې کړي.

دا ټولګې عموماً ورته بنې تعقیبوي . دوی د شعرونو ټولګه وړاندې کوي چې تر دې وړاندې دوی په سریزه کې د دې کلتوري اثارو اصلي ځای، تاریخ ، بڼه او محتویاتو ته کتنه کوي. دوی عموماً تحلیل نه ورکوي، که څه هم اسد الله شعور ( ۱۹۷۴ ) د خپلې ولسي شاعرۍ د ټولګې په سریزه کې د دوبیتیو ژبني ، ادبي، اوضاعي (contextual) او موضوعاتي تحلیل وړاندې کړی دی. د لنډیو ټولګې هم له ورته تشریحي سریزو څخه پیل کیږي. دوی د لنډیو فورم یا قالب باندې ټینګار کوي او د دې شاعرۍ تفصیلي تاریخ ورشاملوي.( شاهین، ۱۹۹۴؛ احمدزی، ۲۰۱۴؛ جهان، ۱۹۹۳). د دې لنډیو جوړښت عموماً په څو برخو یا ډولونو دي چې د پښتنو د کلتور د بیلابیلو اړخونو لکه: عزت، مینې او جګړې استازیتوب کوي. ځینې کتابونه لکه: د (Khalil, 2011) نور ډولونه هم لري د بیلګې په توګه: غچ اخیستنه، میلمه پالنه، اقتصادي ژوند، زرګري( ګانه جوړونه)، دودونه، مذهب او سفر. سلمی شاهین(۱۹۹۴) د پښتونولۍ ، تاریخ، مینې او د مهاجرت کټګورۍ غوره کوي.

دوبیتۍ عموماً د الفبا یا د موضوع ګانو په ترتیب سره اوډل شوي دي . سمنګاني ( ۲۰۰۸) دا د وطن ، مینې ، هیلو، بدبختۍ ، برخلیک، سفر، مهاجرت، یوازېتوب، انتظار او د بېلتون د موضوع ګانو مطابق ګروپ کې وې. نور پوهان لکه د هاشمي( ۲۰۱۶) او شریفي (۲۰۱۰) دغه شعرونه د لسو موضوع ګانو لکه: مینه، مذهب، قسمت، تاریخي ،

سياسي او ټولنيزې نيوکي، کوميک (مسخره يا خندنۍ) کې درجه بندي کوي : هغه چې د يو ځانګړي فيستيوال يا جشن په وخت ليکلي شوي وي، د ودونو او د مړيني په مراسمو ليکل شوي وي ، د ميندو او د ماشومانو د سندرو په ګروپ کې وې.

د نورومختلفو موضوع ګانو تر منځ ځيني يو شی دي، لکه: مينه او بېلتون. د حيرانۍ ځای نه دی چې په افغان شاعرۍ ( او که د نورو سيمو شاعري وي) بنسټيزه موضوع يې د عامو سړو او ښځو مينه ده.( شريعتی ، ۲۰۱۴؛ خاورې، ۲۰۰۳؛ ساقي ۲۰۰۹؛ سمنګاني، ۲۰۰۸).

مجروح په دې بحث کوي چې د پښتو لنډۍ د فارسي شاعرۍ نه په دې توپيرلري چې په دی شاعرۍ کې مونږ د صوفي (تصوف) له ميني نه ډېر لرې يو کوم چې د فارسي شعر ځانګړی کوي(2003). خو دا به ډيره سمه وي چې ووايو توپير د فارسي کلاسيک شعرونو او د ولسي شعرونو لکه لنډيو او دوبيتيو تر مينځ دی. مجروح کمال لرونکي شاعرانو شاعرۍ د لنډيو ساده طاقت او زور سره مقايسه کوي کومه چې د ښځو لخوا رامينځته شوې ده هغوی چې ارادتاً بې علمه پاتې کړای شوې دي. د ميني د موضوع سره سره دا شاعري د ښځو د ورځني ژوند نه ډکه ده: لکه د موسم بې اعتباري ، ټولنيزې ستونزې، نا خوښه قسمت او ورځنۍ ستونزې. په هر صورت نور پوهان بيا يادونه کوي چې دا شاعري د لويو پيښو په اړه يوه تبصره وړاندې کوي لکه: جګړه او ريژيمونه بدليدل. ( شعور، ۱۹۷۴؛ خاورې، ۲۰۱۶) او نجيب منلی دا څرګندوي چې لنډۍ په دوامداره بدلون اوتعديل حالت کې دي چې د ورته بدلونکي ټولنيز او سياسي شرايطو له کبله دی(۲۰۰۸).

لنډۍ او دوبيتيزه د عقيدې او مذهبي سيمبولونو له يادوني نه هم ډکې دي، چې ددې نه د ميني شعرونه هم خالي نه دي او په افغاني ژوند کې د مذهب د مرکزيت او اهميت ښودنه کوي:

مخ ته مې مه ګوره کافر شوې

زه مسافر جانان په خدای سپارلې يمه

د لنډيو او دوبيتيو په ټولګو کې د افغان پوهانو له خوا ژبنۍ، ادبي او موضوعي تحليل يا شننه لږه شامله ده.شعور( ۱۹۷۴) او مجروح (2003) لږې استثناوې دي. اسدالله شعور په خپله مطالعه کې د دوبيتيو د ژبې او د فورم يو تفصيلي تحليل وړاندې کړی دی او په ځانګړي ډول ددې شعرونو او کلاسيکي فارسي دوبيتيواو رباعيياتو ترمينځ يې توپيرونه ښودلي دي. ده د شمالي افغانستان ( تخار، بدخشان او بلخ) دوبيتيو او د مرکز(کابل) هزاره جات او هرات) دوبيتيو د يو تربله پرتليز تحليل ترسره کړی دی، او دا بحث کوي چې د شمالي دوبيتي د رباعيياتو اصول تعقيبوي. د نظم جوړوني، عروضي جوړښت او د قافيې له اړخه. دا د مرکزی سيمو دوبيتيو نه ډير پر مختللی دی.

د محتوياتو له پلوه شعور د دغه عام خيال ننګونه کوي کوم کې چې "مينه" د دوبيتيو کليدي او غالبه موضوع ښودل شوې ده ، بلکې دوی د ورځني ژوند نور اړخونه، ټولنيزو اړيکو او سياست ته اشاره کوي (شعور، ۱۹۷۴;۳۳) . د مثال په توګه شعور يادونه کوي چې د ښځو لخوا ليکل شوې دوبيتۍ کې اصلي موضوع د خوابښي ګانو لخوا د استبداد(ظلم)، بی وزلی او د واده نه د وروسته ژوند نا خوښي (شعور، ۱۹۷۴;۳۳) ده.

مونږ بله هيڅ داسې مطالعه پيدا نه کړه چې په هغې کې په ښکاره ډول د دې موضوع يعنې په افغان شفاهي کلتور کې د مهاجرينو انځور ذکر شوی وي پرته د مجروح له کتابه" د مينې او د جنګ سندرې"[٢]: د افغان ښځو شاعري". ليکوال د لنډيو څخه کار اخلي تر څو د ښځو انديښنې څرګندې کړي. په دوی فزيکي او اخلاقي ظلم، د دوی ستونزمن او پای ته نه رسيدونکی کار ، د اوبو راوړل، د ماشومانو خيال ساتل، د دوی د وکالت او د انتخاب نشتوالی په ځانګړې توګه په دې موضوع کې چې دوی له چا سره مينه لري ، خو د دوی فخر او بغاوت هم ښکاره کوي چې په دې کې ځان وژنه يې يو ډول دی. هغه د ټولګې يوه برخه ځلوينتو لنډيو ته ځانګړې کوي کومې چې هغه د پيښور په کمپونو کې د افغان کډوالو ښځو نه راټولې کړې دي او په دې ټينګار کوي چې دا لنډۍ د جدايۍ د درد تل پاتې څرګندونه ده (2003;21) هغه لنډۍ چې په جلا وطنۍ کې ښځو په شفاهي ډول ويلي دي د دردناکې جدايۍ سره ځان څرګندوي: د خپل مين جانان څخه جدايي چې په جګړه کې دی، د وطن نه لرې والی(Majrouh, 2003:45). که څه هم د مجروح د ښځو د غږ تحليل او هغې ته حساسيت ډير حتمي دی خو بيا هم هغه برخه چې د وطن له ليرې والي نه بحث کوي لږ څه، ډيره کمه او بې کيفيته ده. ددې برخې ټولې لنډۍ د جلا وطنۍ يا د مهاجرت سره تړاو نه لري او د دې تجربې ريښتونی تحليل شتون نه لري.

ددې شعرونو، متلونو او د نکلونو ټولګې ددې لپاره وړاندې شوې دي چې افغان کلتور ولمانځل او سر لوړی شي او عموماً ددې نه وړاندې د اړونده کلتور يوه ټولنه (برخه) تشريح شوي وي. د لنډيو راټولولو په برخه کې پوهان هغه نورمونه آيډيال کوي کوم چې په پښتونولۍ کې تثبيت شوي دي( جهان، ۱۹۹۴؛ Khalil, 2011 ؛ احمد زی، ۲۰۱۴). مونږ د ځينې دري ليکوالانو ترمنځ هم ورته تګلاره ليدای شو چې هغوې هم د ولسي شعرونو ټولګو ته په سريزه کې د ورته خلکو ځلاند کلتور پېژندلو ته دوام ورکوي، د بيلګې په توګه: د پنجشير، بدخشان يا د هزاره جاتو د خلکو دود او دستور، او د دوی د کليوالي ژوند دود پالنه ( هاشمي، ۲۰۱۶، خاورې، ۲۰۱۶، شهراني، ۲۰۱۶)

د افغان پوهانو ترمنځ شفاهي کلتور د پخوانيو خلکو راټول شوي حکمت يوه قيمتي خزانه ده چې د پيړيو په اوږدو کې د ټولنيز يادښت له لوري را نقل شوې ده ( شعور، ۱۹۷۴؛ شهراني ۲۰۱۰؛ شريعتي، ۲۰۱۴؛ هاشمي ، ۲۰۱۶م؛ خاورې، ۲۰۱۶). د شعور ددې وينا له مخې شفاهي کلتور د خلکو روح او د ژوند تجربې منعکسې کوي.(شعور۱۹۷۴; ۱۸). دا د خلکو عقيدې، هيلې، وېرې، خوبونه او احساسات منعکس کوي. له همدې کبله پوهان دا يوه کړکۍ بولي چې په کومې سره مونږ د يو هيواد ځايي کلتور کشف کولای شو.

---

2 Majrouh S B (2003). *Songs of love and war: Afghan women's poetry*. Translated from French by M De Jager. New York: other press

**د شفاهي کلتور په اړه اکاډیمیکې څېړنې**

په فارسي کې د شفاهي ادب په مطالعو کې ډېرى عالمان دوه ډوله شاعري توپيروي( شعور، ۱۹۷۴؛ شهرانی، ۲۰۱۰؛ شریعتی ، ۲۰۱۴): هغه د مينې شاعري دا چې خپلو نژدې کسانو ته ويل کيږي چې په هغې کې خپل برحق مينان، يا ممنوعه مينان شامل وي او يا د مورنۍ مينې نه ذکر کوي: ددې نه پرته مونږ سره هغه شعرونه دي چې د خلکو ورځنی ژوند څرګندوي. د ورځني ژوند په اړه د افغانانو ولسي شاعرۍ په برخه کې مهمې موضوع ګانې لکه بېوزلي، ټولنيزه نابرابري،غدر( خيانت)، د وطن نه لرې والی، آواره ګي او بېلتون دی چې دوی اکثراً د دې ژوند په اړه خپګان څرګندوي.

د بيلګې په توګه دوبيتيزه ، للاګ او د هزاره ښځو له خوا جوړ شوی للو د غم او د درد او د کورني کارونو او مسوليتونو پورې محدود ژوند نه دوی ته آرام ورکوي.

شب تاريکه ابرا پاره پاره
ديی ملکا هميشه شاو مو تاره
گل لالگ بودم پژمرده گشتم
خداوندا بدی عمری دوباره

د هزاره ولسي ادب په هکله د شريعتي مطالعه ( ۲۰۱۴،۲۰۱۵)، په للاګ او په للو کې مهاجرت، بېلتون او د لیرې والي په اړه ډېرې اشارې دي. په لانديني بيلګه کې مور خپل وړوکي ماشوم ته د خپل مسافر مېړه او د يوازېتوب سندره وايي.

لولی لولی گلم استی
صندق چه ی دلم استی
لولی لولی دلم خسته
اتيت بار سفر بسته
سفر موره د ترکستو
ازی ملکا ازی بوستو
ده ای تاريک شوی تيره
چيکه خاو تو نمی گيره

په هر صورت، د دې پوهانو ډېرى کارونه په پراخه توګه توضيحي او تاريخي ړاتي دي( تاريخ پورې اړه لري)

په پښتو ادب کې ډېرې مطالعې شوي چې د جندر په اړه دي او يو څو ليکوالانو( احمدزی، ۲۰۱۴؛ Rahimi, 2017، جهان، ۱۹۹۳) د ښځو انديښنې او احساسات معلوم کړي کوم چې دا شعرونه جوړوي. اصلي انديښنه محبوب دی، څنګه ومومي، څنګه محبوب يا مېړه وساتي يا يې له لاسه ورکړي، او توپير کول ( کله چې مېړه دويمه يا درېيمه ښځه

ACKU

وکړي)، او د عزت ساتلوخیال( جنګ ته تللو سره)، بېلتون او د هغو د پاره تلوسه او انتظار کول ځوک چې حاضر نه وي.

ځکه مې اوښکې یاقوتي شوې
یار مسافر شو دا تحفه پسې لېږمه

او مونږ په ځرګنده توګه ګورو چې د ښځو رول ( میندې، ښځې، مینانو) کار انتظار کول دی: په جګړه تللي خاوند انتظار ، یا در بدر جانان او یا د مساپرو انتظار.

مسافرو خوږلي یاره
چیرته په خیال کې دې راځم که هېره دې کړمه

**افغان اکادمیکي ادب کې مهاجرت ( لیکلی ادب)**

په شفاهي کلتور کې د مهاجرت د بېلابېلو اړخونو په اړه د شاعرۍ یوه غټه سرچینه شته، خو داسې ښکاري چې دا تر اوسه پورې د علمي مطالعې( اکادمیکو څېړنو) تمرکز نه ده پاتې شوې. له همدې کبله مونږ د مهاجرت تحلیلي کتو لپاره افغان ادبیاتو ته مخه کړه ـ لیکلی ادب ـ ددې د پاره چې مونږ په افغانستان او سیمه کې د پوهانو لخوا کارول شوې او د تحلیل میتودونه معلوم کړو. دا په ځانګړې توګه سمه ښکاري ځکه چې شفاهي کلتور او لیکلی ادب په یو بل کې سره ګډ دي (Mills,2006,2013). دا خبره ددې شاعرۍ دپاره سخته نه ده کومه چې د شاعرانو لخوا جوړېږي ( د دې ادب په پرتله چې تر ډېره نامعلومه او نا لوستو خلکو جوړ کړی دی) چې د شفاهي کلتور برخه جوړه شي او همدا راز( شفاهي ادب ) د دې برعکس چې د لیکلي ادب برخه وګرځي. غوره بېلګه د کاظم کاظمي شعر" *بازګشت*" یا راستنیدل دی کوم چې په ایران کې میشت افغان مهاجر دی. دا شعر په افغانستان کې په پراخه توګه پیژندل شوی او کله چې ځوک د وطن نه لرې والي ځخه کور ته د راستنیدو ذکر کوي نو دې شعر ته اشاره کیږي او ددې شعر اولنۍ قطعې ( لانز) پراخه پیژندل شوی دی او له موسیقي سره هم کارول شوی دی.

غروب در نفس گرم جاده خواهم رفت

پیاده آمده بودم، پیاده خواهم رفت

د افغان معاصرې شاعرۍ مطالعې د مهاجرت په موضوع باندې تمرکز کړی دی او په ځانګړې توګه د هغو افغانانو کار چې په ایران او پاکستان کې د ۱۹۷۸ د کودتا نه پس مهاجر وو. عموماً افغان پوهان ( وسیقي، ۲۰۰۹؛ تابش، ۲۰۱۲، آریان فقیري، ۲۰۱۳؛ محمدي، ۲۰۱۵) دغه ادب په دریو جلا مودو کې ویشي: ۱۹۸۰ چې د شوروي خلاف د جهاد دور وو، ۱۹۹۰ کې کله چې په هېواد کې کورنۍ جګړې وې او د طالبانو راتګ او د طالبانو د نسکوریدو وروسته دوره. خو په دې هر دور کې مهاجرت او د وطن نه لرې والی انتخاب نه بلکه مجبوري وه او د دې نه خلاصی نه و. او ځرنګه چې په شاعرۍ کې د دې انعکاس شوی دی دا یوه ترخه او له ځانه د پردي کېدو( alienating) تجربه وه.

د مهاجرت شاعرۍ په موضوع باندې ډېرې زياتې مطالعې د شاعرانو او د ناقيدينو لخوا شته او همدارنګه د افغان پوهانو لخوا چې په ايراني علمي مؤسسو کې درس وايي ( محمدي، ۲۰۱۲؛ احمد شاه احمد زی، ۲۰۱۳؛ وثيقي، ۲۰۰۹؛ تابش، ۲۰۱۲؛ آريان فقيري، ۲۰۱۳). په ايران کې افغاني اکاديميک ژورنالونه لکه: ( دور دری، خط سيوم، فرخار يا ايراني ادبي ژورنالونه لکه نافا) دوی په ليکلي ادب کې د مهاجرت موضوع ته ځانګړې برخې وقف کړې دي او د شاعرۍ ټولګې دي کومې چې خلکو په خپله چاپ کړي دي او يا خپلواکه خپرېدونکو خپرې کړي دي، او يا د افغان مهاجرينو په ادبي مجلو کې خپرې شوي او يا په مشاعرو کې ويل شوي وي.

دغه مقالی زياتره په ادبي، ژبني او موضوعي تحليل باندې تمرکز کوي. د دغو ليکوالانو موخه دا وه چې وګوري په دې شاعرۍ کې کومې بنيادي موضوع ګانې په نښه شوي دي( وطن، بېلتون، جګړه او د وطن نه لرې والی)، او بېلابېل ژبني فورمونه کوم چې دې شاعرانو کارولي دي( مثنوي، غزل، آزاد کلام) او چې دا بحث وکړای شي چې دې مطالعو د شوروي د حملې نه وروسته د پام وړ ادبي تحريک تشکيلاوه. دا د افغان مهاجرت ګاونډيو هېوادونو ته د سفر او يا د دې نه هم لرې ځمکو ته د مهاجرت دور دی.

د افغانانو ټولنيز او سياسي حالاتو د عصري شاعرۍ په محتوياتو باندې ډېر زيات اثر کړی دی لکه څرنګه چې پوهانو لکه تابش( ۲۰۱۴)، نيک خواه ( ۲۰۱۰) او آرين فقيرې ( ۲۰۱۳). جګړه او په مهاجرت باندې د جنګ اغيزې د افغان شاعرۍ اصلي موضوع ګانې دي، د ۱۹۷۸ نه راپديخوا تر اوسه پورې، شاعرانو د خپل وطن او د خپلو خپلوانو د وطن نه لرې والي غم ته غږ ورکړی دی او پر جنګ يې نيوکه کړې چې له همدې کبله دوی د وطن پرېښودو ته اړ شول. قنبر علي تابش(۲۰۱۲) دې شاعرۍ ته د وخت د سياسي حالاتو منعکس کيدونکي په سترګه ګوري. د تابش دپاره کډوالي، جګړه د استبدادي مطلقيت نظام، فساد او بې وزلي د معاصرو ادبياتو په ذريعه خپل ځانونه د افغان بحران اساسي لاملونه بولي. د وطن نه لرې والي په اړه هغه د خليل الله خليلي کار په پيل سره دې خبرې ته اشاره کوي چې دا تل يوه ترخه او سخته تجربه ده. دا ليدلوری ډېرو پوهانو شريک کړی ( محمدي، ۲۰۱۲، ۲۰۱۳؛ تابش، ۲۰۱۲؛ کاظمي، ۲۰۰۸: مظفري، ۲۰۱۵)، څوک چې د افغان مهاجرينو شاعرۍ کې په غم او کړاو باندې ټينګار کوي، له کوم نه چې خلاصی نشته ځکه چې په افغانانو باندې کډوالي تپل شوې ده او د دوی خوښه نه ده.

په هر صورت، کډوالي د بېلابېلو نسلونو دپاره بيلابيل مفاهيم لرې. د مظفري دپاره ( ۲۰۱۵) د اول او د دويم نسل دپاره ( هغوی چې په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کې مهاجر شوي دي) دا د سرحداتوسره تړلې يوه تجربه ده. يوه تجربه دا چې په يو ځانګړي وخت او ځې کې يې ځای نيولی وي او د لنډې مودې دپاره وي. د راستنيدو خيال په شاعرۍ کې په قوت سره شته، او د کور د پاره اړتيا او د بېلتانه درد د خليل الله خليلي، سادات ملوک تابش او د برات علي فدای په ادبي تخليقي آثارو کې څرګنده ده.

من بی‌وطن که دور ز آغوش مادرم

بنشسته‌ام در آتش و در خون شناورم

ACKU

خاکی که پروریده مرا دوستان کجاست

من خاک دیگران چه کنم، خاک برسرم

شاعري د هغو شاعرانو دپاره یوه وسیله ده کوم چې په خپل افغاني هویت ټینګار کوي. د شاعرانو بنسټونه اوس هم په قوت سره د افغان خاورې سره تړلي دي کومه چې د هغوی د راتګ انتظار کوي. د دویم نسل دپاره چا چې افغانستان پرینسود د هغوې دپاره افغانستان یوایډیل یا د نظر وړ وطن نه دی خو یو هیواد دی چې په شخړه کې ښکېل دی، د ویني نه ډک دی، سیوری دی او دلته ظلمونه دي. دغه شاعران لکه کاظم ، تابش، سعیدي، قسیمي، ابراهیمي په خپله شاعرۍ کې د کډوالۍ د ژوند ترخه حقیقتونه منعکس کوي. دریم نسل ( کوم چې په کډوالۍ کې زیږیدلي دي د ۲۰۰۱ نه وروسته) په خپل هېواد کې پوخ بنسټ نه لري، د دوی دپاره د وطن نه لرې والی یوه بې کیفیته مفکوره ده. مظفري بحث کوي چې د الیاس، علوي، زهرا حسین زاده، امان میرزایي او عباس رضایي دپاره کډوالي د سرحداتو سره اړه نه لري خو د شاعر د ژوند په ټولو اړخونو کې څرګنده ده ( ۲۰۱۵).

شعر من تو نیز آواره‌ای

روزی در فلوجه دود می‌شوی

روزی در پاریس به زندان می‌افتی

روز دیگر در گوانتانامو بند بندت

پاره پاره می‌شود

دغه شاعران د یو ورک شوي هېواد په لټه کې دي او شاعري د دوی دپاره د دوی د هویت د لټون یوه برخه ده. ډېری پوهانو لکه ( مظفري، ۲۰۱۵؛ کاظمي، ۲۰۰۸؛ تابش، ۲۰۱۴؛ محمدي، ۲۰۱۵) یوې اړونده مفکورې ته اشاره کړې ده کومه چې د مهاجرت په شاعرۍ کې پیدا کیږي او هغه له ځانه پردی توب (alienation) دی. مظفري (۲۰۱۵) او کاظمي (۲۰۰۸)په ایران کې په کډوالۍ مېشت ځوانانو تر منځ د خپل اصلي وطن سره فاصله او بې بنسټي ګوري. دوی د کوم هېواد سره د تړاو احساس نه کوي. دوی د ملي پېژندني ځانګړی احساس نه لري او تر ډېره له دوی سره د دوی د چېرته او د راتلونکي خیال نه وي. ګل نسا محمدي( ۲۰۱۵) بیا یو بېل نظر لري. هغې په دې نوي نسل شاعرانو کې وطن ته د ستنیدو اړتیا لیدلي او غوارې چې د هېواد په بیا ودانۍ کې برخه واخلي ( ۲۰۱۲; ۱۰۸). په حقیقت کې، هغې په خپله څېړنه کې د دې نسلونو شاعرانو بېلابېلواړیکو او د دوی د مهاجرت دوره کومه چې قوي سیاسي او جغرافیایي ګډوډیو نه ډکه وه، څارنه کړې ده. ورته تنقید په نورو لیکوالانو هم لکه تابش(۲۰۱۴) پورې کیدی شی. په حقیقت کې، د وخت له تېرېدو سره اصلي ځای (وطن) ته لید لورې او اړیکي بدلیږي. دغه اغیزه هېرول په ادبیاتو کې د مهاجرت د ژور پوهاوي مخه نیسي.

ACKU

د علمي ادبياتو دا کتنه څرګندوي چې مهاجرت د افغاني شعرونو کليدي موضوع ده. پوهان په دې نظر دي چې د (وطن ، بې ځای کېدو او بې بنستۍ) مفکورې په ولسي شاعرۍ او سندرو کې هم شتون لري، خو په ډېره لنډه او خلاصه کچه باندې. سر بېره پر دې د یو فني(Generational framework) چوکاټ په کارولو سره لکه څنګه چې مظفري (۲۰۱۵) کارولی دی، دا هغه پراخه سیاسي ټولنیز شرایط منعکس کوي په کوم کې چې دا شعرونه لیکل شوي یا جوړ شوي دي. دا به هم زموږ د تحلیل دپاره ډېر ضروري وي او له موږ سره به مرسته وکړي چې د افغانانو تر مینځ د مهاجرت د آیډیا تدریجي تکامل ومومو، او په دوی د لویو ټولنیزو، سیاسي پېښو او په سفر کې د وخت تېرولو اغیزې وګورو.

**افغان شفاهي کلتور چې د نړیوالو پوهانو لخوا لیدل کیږي:**

افغان شفاهي کلتور د شاعرۍ ، سندرو او نکلونو په شمول لویدیځ پوهان هم ځانته جذب کړي دي چې په هغو کې لوییس دوپرې (Louis Dupree) هم دی ، هغه چا چې افغانستان د شاعرانو قوم بللی دی. د ملي پوهانو سره سم د بهرنیو پوهانو د پاره لکه: آرلی لووین (Arley Lowen,2010) ، مارګرېټ ملز (Margaret Mills,2006,2013 ) ، او Nile Green( Green, 2013 ) د افغان د شفاهي کلتور مطالعه، د افغان کلتوري ارزښتونه ، ټولنیز نورمونه او پوهنې چې دا کلتور جوړوي ، په پوهېدلو کې یوه مهمه وسیله ده (4 ; Johnson, 2009[۳]). Mills په افغانستان کې د فارسي ویونکو خلکو خبرې( ډیالوګ) پلټلی او ویې موندل چې دا په وړو نظمونو، متلونو، انځورونو او په قولونو باندې شامله ده او د غالب شفاهي کلتور د دوديزې معاصرې کلاسیکي بڼې سره د پرله پسې ګډون یادونه وکړه. ملز(Mills,2013) څرګندوي چې څرنګه ۳۰ کلنې جګړې پر لیکلي ادب او شفاهي ادب اغیزه کړې، خو د شفاهي کلتور او د لوستونکو کړیو څخه مننه. په هر حال، د ده د ( ۲۰۰۹ م ) کال ساحوي کار دا خبره په ډاګه کړه چې تلویزیون اوس د دې دودونو ځای نیولی او د افغانانو په ورځني ژوند کې یواځې وړوکې شفاهي بڼې لکه متلونه، ویناوې او سندرې پاتې دي.

خو بیا هم لوین (Lowen,2010) موافق نه دی او استدلال کوي چې د نوې ټکنالوژۍ بنو سره سره چې په افغان ورځني ژوند کې مهم رول لوبوي شاعري اوس هم په عصري ټولنه کې مضبوط بنسټ پیدا کړی او نوي نوي لوستونکي پیدا کوي، دلته د ټولنیزو رسنیو نه مننه. زموږ لومړنۍ څېړنې دا څرګندوي چې په شفاهي تمرینونو کې کمښت راغلی، مګر د رسنیو چټکه پراختیا په ځانګړې توګه د دیجیټل رسنیو او د لوین ( Lowen) د مطالعې را په دې خوا کلونو کې د شاعرۍ په مشهورولو او خوځښت کې د عوامي یا کلیوالي موسیقیی له لارې، مرسته کړې ده.

د ملي او نړیوالو پوهانو تګلارې پرتله کولو سره بهرني اکاډیمیکان د تاریخي ، سیاسي او ټولنیزو اړخونو له پلوه د افغانانو تر منځ د شفاهي کلتور په کردار او د فعالیت په اړه تمرکز کوي. خو بل خوا ته، د افغان پوهانو تر منځ لکه مخکې چې خبرې وشوې لېوالتیا د شفاهي ادب ( د لیکلي ادب په پرتله) په ژبنی ، ادبي او موضوعي شننې په اړه ده. د

---

[۳]د جانسن(Johnson, 2009) په قضیه کې او د پخوانیو افغاني رژیمونو د مثالونو په تعقیبولو کې ( بل مخ وګورئ) د هغه هدف دا ووچې داعلم په افغانستان کې د ایساف او نړیوالو قواوو په همکارۍ شاعري او نور مهم صنفونه وکارول شي چې د دوی پیغامونه په واضحه توګه ورسیږي.

افغانستان په څېر هېواد کي چېرته چي ډېری نفوس يی نالوستی دي، شفاهي ادب د ارزښتنو نظام ، د چلند اصول، او خلکو ته د داسي کودونو د ماتولو د ناوړه پایلو د وړاندې کولو مهمه وسيله ده ( Dupree,1978, Caron,2007 Griswold, 2014, Mills,2006). شاعري، سندرې او نکلونه د ایدیالي(ideal behaviour) چلند د نورمونو بیلګي وړاندې کوي.

Grimaاستدلال کوي چي لنډۍ عموماً د سړو لخوا رامنځته کيږي تر څو د يو مثالي ښځينه غږ استازيتوب وکړي او دا بي نومه وګرځي (Grima, 1992;148). هغه د خپل ساحوي کار او د افغنستان او د پاکستان د مېرمنو تر منځ د ګډون کوونکو څارني له لارې خپل دليلونه بنستيز کوي او يادونه کوي چي لنډۍ د ښځو په پرتله ډېری د سړو لخوا ويل کيږي. د سړو لخوا د ښځو په غږ د تمثيلي رول ځانګړنه يوازې په لنډيو کي نه ښکاري، بلکه په رومانونو کي هم ليدل کيږي( ۱۹۹۲: ۱۴۸). Grima وايي چي لنډۍ د سړو په لاس يوه وړاندې کړې وسيله ده چي ښځې بايد څنګه احساس او کردار ولري. په هر صورت، د ګريزولډ ساحوي کار( ۲۰۱۲) د پښتنو مېرمنو تر منځ دا روښانه کوي چي ډېری لنډۍ په حقيقت کي د ښځو لخوا ليکل شوي دي، کومي لنډۍ چي ګريزولډ راټولي کړي دي ډېرې هوس پاروونکي دي چي د ايديل احساساتو او هيلو نه لرې ښکاري او ډېر لږ امکان يې شته چي دغه لنډۍ د سړو لخوا ليکل شوي وي.

ارتباطي رول ته په پام سره، شفاهي کلتور وخت په وخت د افغان چارواکو لپاره[4] د تبليغاتي وسيلي په توګه اختصاص شوی. جانسن (Johnson, 2009)، کيرن (Caron, 2007,2011) او ملز(Mills,2006) ټول د شلمې پيړۍ په اوږدو کي د بېلابېلو رژيمونو لخوا د شفاهي شاعرۍ د سياسي کولو په اړه خبرې کوي ځکه چي د هغو د پاره شاعري يوه ګټوره وسيله وه چي قواعد او ايديولوژي خپره کړي[5] او د افغان رياست ځواک پياوړی کړي. د کميونست رژيم په اوږدو کي (۱۹۷۸ـ۱۹۸۰) شعرونه او نکلونه دواړه په دوديز(orthodox) او پرمختللی ايدیالوژيکي دريځ د تشريح دپاره کارول کيدل.

نايل ګرين(Nile Green,2010) د افغان کلتور درېيم رول ګوري کوم چي د هويت تشريح کول دی[6] . د افغان ملت دپاره په ۲۰ پيړۍ کي ژبه او ادبيات ( چي پکي فوکلوريک او شفاهي بڼې شاملې دي) د ملي هويت پېژندني مهمې وسيلي

---

[4] د غفور ليوال سره مرکه (کابل، ۲۰۱۷/۲/۲۸)

[5] Caron ( ۲۰۰۷) د ملنګ جان ( ۱۹۱۴-۱۹۵۲ ) مثال ورکوي کوم چي د داود خان په وخت کی د شاهي رژيم منتقد و کوم چی بيا داود په دې رضا کړ چی خپله شاعري د هغه مشروعيت او د ځواک د پياوړتيا دپاره وکاروي. هغه وخت د ملنګ جان شعرونو د افغانستان دفاع او خدمت وکړ کله چي د افغانستان په جنوب ختيځ کي د پاکستان سره په قبيلوی شخړو کي ښکېل و.

[6] ځيني پوهانو (Olszewska, 2007; Green, 2013) د افغان ډايسپوره يا پراګنده شاعری تمرکز کړی دی. که څه هم دا شاعري ليکنی بڼه لري او شفاهي نه ده. ګرين(Green) په ګوته کوي چي افغان کلتور په تاريخي توګه په يوه پراخ سيمه ايز وضعيت کي وده کړې، چي دوی په مهاجرت کي د ليکوالانو، شاعرانو او عالمانو او د دوی د رول يادونه د افغاني ادب په وده کي کوي. په ايران کي ميشته مهاجرينو د ادبي کارونو مهم رول چی دوی د خپل هويت په جوړولو کی لوبولی د اېتنوګرافيکي څېړني موضوع ده چي Olszewska (2007, 2013, 2015) ترسره

وي چې د نا متناجس( بیلابیلو) نفوسو نه یې یو ملت جوړ کړی. هغو رهبرانو او پوهانو چې له هېواد سره یې نېژدې اړیکې درلودې د ۲۰ پیړۍ په اوږدو کې د خپلو ګاونډیانو په پرتله د افغانستان نه یو متحده ایالت جوړ کړی، دا خبره د دی نه څرګنده کیږي چې په ۱۹۶۴ کې په افغانستان کې ویونکې فارسي ژبو ته یې د دري نوم ورکړ او که د دې جنبش ملګرتیا مونږ د پښتنو ملت جوړونکو لکه محمود طرزي جنبش (Green, 2013 ) سره وکړو چې ؛ افغانستان د خپل هویت دپاره خپلی ژبې ته اړتیا لري.

**زمونږ د پروژی لومړنی موندني:**

اوس مهال مونږ خپله راټوله کړې ډاټا تحلیللوو. یو ځل چې مونږ د مهاجرت د موضوع په اړه د موادو په راټولولو باندې پیل وکړ نو مونږ حیران وو چې څومره ( ډېر) مواد شته او څرنګه ځینی موضوع ګانې یو ځای مستقلې پاتې کیږي ، په ځانګړې توګه د وطن او د بېلتانه موضوع ګانې. کوم څه چې لاندې راوړل کیږي د ځینو کلیدي موضوع ګانو او خیالونو غورچاڼ دی چې په لنډیو او دوبیتیو کې څرګند شوي او په مهاجرت پورې اړه لري. مونږ په راتلونکې مقاله کې ژور او تفصیلي تحلیل وړاندې کوو.

دغه شعرونه د مینی او د وطن د یاد او د بیا راستنیدو د هیلو او خوبونو نه ډک دي.

په زړهٔ مې خپل وطن وربېږي
لکه د زانو قلقلي پسې کومه

به دل چون یاد از بوم و بر آید
سرشکم بیخود از چشم تر آید
از آن ترسم که من برگشته دوران
که عمرم در غریبی برسرآید

د مسافرو ځنګدن دی
سر یې وطن ته کړئ چې ساه یې وخیژینه

بلبل به وطن چون گل صد برگ بود
از بی وطنی رنگ و رخم زرد بود

---

کړي. دوی د دې ادبي بنو رول د یو ځانګړي افغان هویت ساتنه کې کشف کړی کوم چې ډیری افغانانو ته موقع ورکوي چې د خپل طرد او د محرومیت احساس په فخر بدل کړي، په هماغه وخت کې چې دوی غیر ایرانی اصل او د ایرانیانو سره ګډ کلتوري میراث کې پراته دي.

مردم میگن حال غریبی چون ای

ای حال غریبی بدتر از مرگ بود

مهاجرت لکه څنګه چې په دی مطالعو کې انځور کړای شوی دی یوه درد ناکه تجربه ده هغه چې ډېر لږ غوره کیږي. دغه شعرونه د تللو ډیری دلیلونه وړاندې(منعکس) کوي، خو اکثریت بیا مهاجرت داسې ښکاره کوي چې په زیات_کراهت غوره کیږي.

څوک په رضا د ملکه نه ځي
یا ډیر غریب وي یا د یار د غمه ځینه
پاس په بنګله کې فریاد خیژي
یا رنځوران دي یا میین له ملکه ځینه

دا د جدایی یا بېلتانه درد دی د هر هغه شي نه چی دوی ته نژدې او د مینی وړ دی. زیات درد چی څرګند شوی د_هغو ښځو دی کومې چی په کور پاتې وې.

خدایه د قطر بازار ړنګ کړې
په شته میړو کې ښځې کونډې ناستې دینه

ز هجرت جان و دل بی تاب گشته

جگر در سینه ام خوناب گشته

ز بس اندر فراقت گریه کردم

دو چشمم چشمهء سیماب گشته

د دوبیتیو او د لنډیو جندر طبیعت د پام وړ دی . ډیری شعرونه د ښځو لخوا ویل شوي دي چې د مینانو، مړونو او زامنو دلیلونه وایي چې لاړ شي یا بیرته راستنه شي.

گل صد برگ تابستان مادر

فرار ملک تابستان مادر

روان کو خط بپاس آن که خوردی

بطفلی شیر از پستان مادر

مسافري دې ډېره وکړه
بس که راځه روزی به خدای را رساوینه

خو ځینی شته چې د هغو دپاره چې تللي دي نفرت څرګندوي او د هغو سره چې د پاتې کېدو توان لري کینه کوي او د هغو خلکو غم هم څرګندوي کوم چې په کور کې په یواځې پاتې کېدو مجبور کړای شوي دي.

ته په وطن خوشحاله ګرځه
زه په آلمان کې لکه واورې ویلی شومه

سفر کردی سفر دور کردی

دلم را خانهء زنبور کردی

سفر کردی برای مال دنیا

خوده پیر و مرا رنجور کردی

په څرګنده توګه په وروستنیو لسیزو کې بشپړو کورنیو په پاکستان او ایران کې پناه اخیسته خو په عمومي توګه د ښځو مهاجرت ډېر لږ و، په تېره بیا یوازې. د ډېرو خطرونو نه پرته چې ټول مهاجرین ورسره مخ کیږي، نجوني او د هغوی عزت ډیر حساس کنټل کېده.

پردېس ځوانانو سره خوند کړي
چې جینکی په سفر ځي ارمان راځینه

په دې شاعری کې د مهاجرت د وطن ښکلا او د مهاجرت د ګټو په باب اعتراف خورا کم لیدل کیږي. او که چېرې د جلاوطنی هیوادونو ته مراجعه شوې هغه د انزوا، بې ځایه کېدو او د وتو احساسات دي چې په ایران او پاکستان کې افغان مهاجرینو تجربه کړي چې د تبغیض او بې باوری احساس دی. څوک چې په جلاوطنی کې دي د هغو دپاره لنډۍ او دوبیتی هر هغه څه یادوي چې له هغوی نه پاتې دي ــ د دوی کورنی، د دوی کلي او ښارونه، د دوی وطن او آن حتی په ځینو طریقو کې د دوی وړکتوب او ټول هغه شیان چې دوی ته ګران دي.

پردی وطن پردی ماښام دی
د روژه ماتي پکې نه وینم خوندونه

سرکوی بیلن یک دانه گندوم

غریبی می کنم در ملک مردوم

غریبی کرده کرده تار گشتم

به پیش دوست و دشمن خوار گشتم

په پای کې هر ځای د مهاجرینو د شعرونو مطالعه کور ته د ستنیدو اړتیا څرګندوي، او هغه زخمونه جوړوي کوم چې مهاجرت لګولي دي او دا وېره چې مهاجر به ونه توانیږي چې راستون شي.

ACKU

قفس تنگه نمی تانم پریده

وطن دوره نمی تانم رسیده

خداوندا وطن پاینده باشه

نگار نازوک من زینده باشه

زړگیه صبر شه مه ژاړه
تل به آشنا په سفر نه وي را به شېنه
نه به ژوندی وطن ته لاړشم
نه به جانان پر هغه خاوره ووینمه

**پای:**

وروستۍ برخه د ځینو هغو موضوعاتو لنډیز دی چې افغان شفاهي کلتور بشپړوي خو دا جامع او پراخه نه ده خو د دی څخه هدف تاسو ته د هغو موادو خوند درکول دی چې زمونږ ورسره سروکاردی. په دې مقاله کې مونږ هڅه کوله چې د هغو عالمانو له کار څخه زده کړه وکړو چې مخکې تېر شوي دي. د ادب د دې برخې په کره کتنې سره مونږ ډیرې مفکورې او تیورۍ کشف کړي دي چې موږ به يې په خپل تحلیل ؛ په افغان شفاهي کلتور کې د مهاجرینو او مهاجرت انځور؛ کې ځای پر ځای او ترتیب کړو. د یادونې وړ ده چې د دې تحلیل په کارولو سره مونږ وکتل چې مهاجرت نسبتا په یوې یو شانته بڼې سره انځور شوی لکه یو شی چې باید وزغمل شي، او د مهاجرت احساسات جندري دي، عموماً سړی یا نارینه مهاجر خپل کور یادوي او د جلاوطنۍ څخه خبرې کوي او د ښځو غړونه ډیری شخصي او غمجن دي او خپل مسافر سړي ته یادوي چې راستون شي او دوی هېر نه کړي. څنګه چې زمونږ پروژه مخ پروړاندی ځي مونږ هیله مند یو چې تر ډیره حده پورې هغه وجوهات کشف کړو چې هغه مهاجرت او د مهاجرینو انځور یواځې یوه غمیزه (بلا) غوندې ځرګندوي د هغه چا دپاره چې څوک ځي او که څوک وروسته پاتې کیږي، او که، په حقیقت کې ، دا همداسې وي.

# ماخذونه

**د پښتو او دري ژبو تحلیلی آثار:**

احمدزی، سمیله. په پښتو لنډیو کی د ښځو د ژوند د ځینو مسایلو څیړنه. نا چاپ شوی څیړنه، علومو اکاډمی کابل، ۱۳۹۸

جهان ، شاه. *پښتو ادب کی د میرمنو برخه*. لاهور: ډایرکتر پښتو اکادمی(پیښور پوهنتون)، ۱۳۷۲

آرین فقیری، نصیر احمد ، نقد و بررسی صورت و معنای شعر عبدالقهار عاصی، پایان نامه کارشناسی ارشد، دانشگاه شیراز، مرداد ۱۳۹۲

احمدزی، احمد شاه، نقد و تحلیل جریان‌های شعر فارسی معاصر افغانستان از سال ۱۳۵۷ تا سال ۱۳۸۴ ه- ش، رسال دکترا، دانشگاه تربیت مدرس، بهمن ۱۳۹۱

تابش، قنبرعلی، بحران سیاسی افغانستان در شعر معاصر دری، انتشارات امیری، کابل، ۱۳۹۳، ۲۲۸ صفحه. حصاریان، اکرام الدین، نوروز و بزرگداشت آن در بدخشان، انتشارات سعید، ۱۳۹۲، کابل.

خدایار, ابراهیم, "ادبیات مهاجرت (بررسی مضامین شعر مهاجرت شاعران فارسی گوی ماوراء النهر در قرن بیستم"، *مطالعات ملی*، 44–27 ,(1378)

شریفیان, مهدی ,شریف تیموری," بررسی فرایند نوستالژی در شعر معاصر فارسی" ,*کاوش نامه زبان و ادبیات فارسی* 7 (1385), 33–62.

شریعتی حفیظ، فرهنگ شفاهی مردم هزاره، انتشارات امیری، کابل، ۱۳۹۳، ۳۶۳ صفحه.

عباس آباد، یوسف علی، "غم غربت در شعر معاصر"، اندیشه گویا، سال دوم، شماره ۶، تابستان ۱۳۷۸، ۱۵۵-۱۸۰.

قویم، عبدالقیوم، "بازتاب مقاومت در شعر معاصر دری"، مجموعه مقاله های تاریخی، ادبی و تاریخ زبان دری، انتشارات سعید، ۱۳۹۰، کابل.

کاظمی، محمد کاظم، شعر مقاومت افغانستان، مجله سوره، مرداد ۱۳۸۴، شماره ...

کرمی محمد حسین ، نصیر احمد آرین فقیری، بررسی و تحلیل جلوه‌های مقاومت و پایداری در شعر عبدالقهار عاصی، نشریه ادبیات پایداری، سال هفتم، شماره ۱۲، بهار و تابستان ۱۳۹۴، ص. ۲۴۱ تا ۲۶۰.

محمدی, گلنسا، تحلیل *شعر مهاجرت افغانستان*، رساله دکترا ( ۱۳۹۰ دانشگاه علامه طباطبائی)، تهران: پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی, ۱۳۹۴.

محمدی، گلنسا، بیان های مختلف هنری در صور خیال در شعر مهاجرت افغانستان، ادبیات پارسی معاصر، سال سوم، شماره ۱، بهار و تابستان ۱۳۹۲، صص ۱۱۷- ۱۴۳.

نیک خواه، عبدالرحیم، درون مایه‌های شعر معاصر افغانستان( سه دهه اخیر)، رساله دکترا، دانشگاه علامه طباطبائی، خرداد ۱۳۸۹.

نیک خواه, عبدالرحیم," تحلیل و بررسی عناصر ادبیات مقاومت در شعر معاصر افغانستان" ،*ادب فارسی، زمستان ۱۳۸۸، شماره ۲، ص. ۱۳۷ تا ۱۵۵.*

نیکوبخت, ناصر ,رضا چهرقانی پرچلویی, "صورت و مضمون شعر مهاجرت افغانستان, *گوهر گویا*113–87 ,(1386)

ACKU

مظفری، ابوطالب، شعر مهاجرت از ابراز هویت تا احراز هویت، نشریه فارس، ثور ۱۳۹۴.

وثیقی، محمد عاکف، معرفی و بررسی شکل و محتوای شعر مهاجرت افغانستان، پایان نامه کارشناسی ارشد، دانشگاه شهید بهشتی، تابستان ۱۳۸۸.

هاشمی، نیلوفر، ادبیات عامیانه افغانستان در مقایسه با ادبیات عامیانه ایران امروز، انتشارات یوسف زاد، ۱۳۹۵، کابل، ۳۰۰ ص.

یگانه، سپیده، تحلیل و بررسی غزل مهاجران افغانستان در ایران در بیست سال اخیر ( ۱۳۶۵- ۱۳۸۵ ه. ش)، پایان نامه کارشناسی ارشد، تهران، پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی، اسفند ۱۳۸۶.

**په انګليسي او فرانسوی ژبو تحليلي منابع:**

Anderson EW and Dupree NH (Eds) (1990) *The Cultural basis of Afghan nationalism*. London : Pinter Publishers.

Ansari Z I (1990) Hijrah in the Islamic tradition. In: Anderson EW and Dupree NH (Eds) *The Cultural Basis of Afghan Nationalism*. London: Pinter Publishers, pp. 3–18.

Baily J (1981) Cross-cultural perspectives in popular music: the case of Afghanistan. *Popular Music,* 1, 105–122.

Baily J (1998) Discours sur la musique à Hérat (Afghanistan). *Cahiers de musiques traditionnelles*11: 125–140.

Baily J (2005) So near, so far: Kabul's music in exile. In: *Ethnomusicology Forum*, Taylor & Francis, pp. 213–233. Available at: http://www.tandfonline.com/doi/abs/10.1080/17411910500329658 (accessed 18 April 2017).

Baily J and Collyer M (2006) Introduction: Music and Migration. *Journal of Ethnic and Migration Studies* 32(2):167-182.

Caron J (2011) Reading the Power of Printed orality in Afghanistan: Popular Pashto Literature as Historical Evidence and Public Intervention. *Journal of Social History*, 45(1): 172-194.

Centlivres-Demont M (ed) and Olivier R (2015) *Afghanistan: identity, society and politics since 1980*. London, New York: I.B. Tauris.

Doubleday V (1982) Women and Music in Herat. *Afghanistan Journal Graz* 9(1): 3–12.

Doubleday V (2011) Gendered Voices and Creative Expression in the Singing of Chaharbeiti Poetry in Afghanistan *In Ethnomusicology Forum*, vol ( 20), no.1,pp. 3–31.

Doubleday V and Baily J (1988) Modèles d'imprégnation musicale en Afghanistan. *Cahiers de musiques traditionnelles* 1: 112–124.

Dupree L (n.d) *The first Anglo-Afghan war and the British retreat 1842: the functions of history and folklore*. *East and West* 26(3, 4), pp.503- 529.

Dupree L (1978) The role of Folklore in Modern Afghanistan. *American Universities Field Staff Reports* 46,

ACKU

Hanover, NH.

Dupree NH (2002) Cultural heritage and national identity in Afghanistan.*Third World Quarterly* 23(5): 977–989.

Enevoldsen J (2000) *Sound the Bells, O Moon, Arise and Shine* 3rd. ed. Peshawar: Inter let Foundation.

Griswold E (2014) *I Am the Beggar of the World: Landays from Contemporary Afghanistan*. New York: Farrar, Straus and Giroux.

Green N (2013) Introduction: Afghan Literature between Diaspora and Nation. In: Green N and Arbabzadah N (eds) *Afghanistan in Ink: Literature Between Diaspora and Nation*. London: Hurst & Company, pp. 1–30.

Johnson T H (2009) Understanding Afghan Culture. *Culture and Conflict study occasional paper4*.Monterey, CA: Naval Postgraduate School.

Khalil D H (2011) Pashtoon Culture in Pashto Tappa. Unpublished doctoral thesis, National Institute of Culture and Historical research Quaid-i- Azam University, Islamabad.

Khan Q, Bughio Q, Naz A ( 2011) An Analysis of the Language of Tappa (Folk type song) and its role in Gender Identity Formation in Pakhtun society, Pakistan. *BIOINFO sociology* 1(1): 9- 14

Loewen A (2010) Voices from Behind Windows and Walls. In: Loewen A, McMichael J (eds) *Images of Afghanistan*. Karachi: Oxford University Press, 65_ 76.

Loewen A, Kaacemy V, Qiam S (2010) Modern Sounds Traditional Words. In: Loewen A, McMichael J (Eds) *Images of Afghanistan*. Karachi: Oxford University Press, 235_250.

Loewen, A, Nadiri P (2010) They Constantly Sing With Grief. In: Lowen A, McMichael J (eds) *Images of Afghanistan*. Karachi: Oxford University Press, 65_ 76

Mills MA (1990) *Oral narrative in Afghanistan: the individual in tradition/Margaret A. Mills*. Garland Pub. Available at: http://repository.tufs.ac.jp/handle/10108/73835 (accessed 27 February 2017).

Mills MA (1991) *Rhetorics and politics in Afghan traditional storytelling*. University of Pennsylvania Press.

Mills MA (2013) Gnomics: Proverbs, Aphorisms, Metaphors, Key Words and Epithets in Afghan Discourses of War and Instability. In: Green N and Arbabzadah N (eds) *Afghanistan in Ink: Literature Between Diaspora and Nation*, Oxford University Press, pp. 229–253.

Mills M and Ahrary A (2006). Folklore of Afghanistan. Available at: http://www.khyber.org/culture/a/Folklore_of_Afghanistan.shtml [Accessed 10 April. 2017].

Majrouh S B (2003). *Songs of love and war: Afghan women's poetry*. Translated from French by M De Jager. New York: other press

ACKU

Nooshin L (ed) (2009) *Music and the play of power in the Middle East, North Africa and Central Asia*. SOAS musicology series, Farnham, Surrey, England ; Burlington, USA: Ashgate.

Nocker M, Junaid M (2011) Poetics of identity : On Entrepreneurial selves of Afghan migrants in Pakistan. *Journal of critical Organization Inquiry Tamara* 9(1-2).

Olszewska Z (2007) "A Desolate Voice": Poetry and Identity among Young Afghan Refugees in Iran. *Iranian Studies* 40(2): 203–224.

Olszewska Z (2013) Lyric Realism: Poetic Reflections of Refugee Life in Iran. In: Green N and Arbabzadah N( eds) *Afghanistan in Ink: Literature between Diaspora and Nation*: 185–207.

Olszewska Z (2015) *The pearl of Dari: poetry and personhood among young Afghans in Iran*. Public Cultures of the Middle East and North Africa. Bloomington: Indiana University Press.

O'Sullivan P (2012) Pride and Propaganda: Analysis of Modern Pashtu poetry in translation Mid-20th century to present. Unpublished Masters Dissertation, Indiana University, United States.

Rahimi F (2017) Landay as the voice of Pashtun women's Passion and social life. *Journal of Research initiatives* 2(3). Article 10

Sanauddin N (2015) Proverbs and Patriarchy: Analysis of linguistic sexism and Gender relations Among the Pashtuns of Pakistan. Unpublished PhD dissertation, University of Glasgow, UK.

Sampson R (2010) Guns and Roses: The Two strands of Love and War in Pashtu Poetry. In: Lowen A, McMichael J (eds) *Images of Afghanistan*. Karachi: Oxford University Press, 121_ 130

Sakata HL (n.d.) *Music in the mind: the concepts of music and musician in Afghanistan*. Washington, 2002.

Sakata HL (1968) Music of the Hazarajat, Unpublished doctoral dissertation, University of Washington, Washington).

Sakata HL (1987) Hazara women in Afghanistan: Innovators and preservers of a musical tradition. *Women and music in cross-cultural perspective*: 85–95.

Sigel CA (n.d.) *A Cultural analysis of Afghan folktale themes / Carol Ann Sigel/Afghanistan council occasional paper #8 The Asia Society*. [New York], 1974.

Slobin M (1976) *Music in the Culture of Northern Afghanistan*. Arizona: Wenner-Gren Foundation for Anthropological Research.

**په پښتو او دري کې د شفاهي ادب ( شعرونو، نکلونو او متلونو) ټولګی**

الهام، محمد رحیم . *لنډی ها*، : پېښور: د اریک توانا کتابخانه،۱۳۸۹.

بینوا، عبدالروف. *لنډی*. کابل: عسکرۍ مطبع، ۱۳۳۷.

شاهین، سلمی. *روهي سندری* . پېښور: دایریکټر پښتو اکیدیمۍ پېښور( چاپ کونکی)، ۱۳۷۳.

ACKU

صاید ، علی اکبر. د عم *سوی فریادونه تپی.* پیښور :زیب آرت مطبعه ، ۱۳۷۴.
لایق ، سلیمان. *پښتو لنډی*، اول چاپ. پیښور: نوی کابل کتاب پلورنځی، ۱۳۶۱.

احدی، فضل احد، فرهنگ عامیانه پنجشیر، انتشارات خیام، ۱۳۹۰، ۱۳۸ صفحه.

اندخویی، متین، گزیده اشعار خلیل الله خلیلی، انشارات اقرا، کابل، ۱۳۸۹.

انوشه، حسن، شریعتی، حفیظ، افغانستان در غربت: زندگینامه و نمونه سروده‌های شاعران تبعیدی افغانستان، انتشارات نسیم بخارا، ۱۳۸۲، تهران، ۶۹۲ صفحه.

ایماق فیض الله، شگوفه‌های ادب : مشتمل بر تک بیتی‌ها، دوبیتی‌ها و رباعیات گلچین کابل : بنیاد غضنفر، ۱۳۹۳، ۷۱۶ صفحه.

برزین مهر ، عبدالغنی ضرب‌الامثال و کنایات: بیش از هفت هزار ضرب المثل، دانش خپروندویه ټولنه، پشاور، ۱۳۷۸.
توفیق، عبدالحسین، اوسانه سی سانه، انتشارات تاک، ۱۳۹۵، کابل.

جاوید عبدالاحمد، افسانه‌های قدیم شهر کابل، ۱۳۹۰(چاپ اول ۱۳۴۳)، انتشارات امیری، کابل.

جعفری، محمود، گزینه‌ی ضرب‌المثل‌های موضوعی افغانستان، کابل، مرکز منبع معلومات افغانستان در پوهنتون کابل (ACKU)، ۱۳۹۳.
حنفی، پاییز، نوای کودک: مجموعه سروده‌های فولکلور، کابل، ۱۳۵۳.

خاوری، محمد جواد، دوبیتی های‌عامیانه هزارگی، تهران: نشر عرفان، ۱۳۸۲.

خلیلی، خلیل الله، شب های‌آوارگی، نشرات شورای ثقافتی جهاد افغانستان، ۱۳۶۵.

رحمان ، روشن، نمونه‌های فولکلور دری : افسانه‌های دری، شورای فرهنگی پوهنتون، کابل، ۱۳۶۳،

رحمان ، روشن، نمونه‌های فولکلور دری، جلد ۲، دوبیتی‌ها و رباعیات، شورای فرهنگی پوهانتون افغانستان، کابل

ساقی، نبی، دوبیتی‌های مردمی غور، انتشارات سعید، ۱۳۸۸، کابل، ۱۸۱ صفحه.

سمنگانی، محسن حسن، یکدسته گل: بهترین دوبیتی‌های محلی، کابل، ۲۰۰۸/۱۳۷۸، مطبعه اسد دانش، ۲۲۹ صفحه.

شریفی، محمد فاضل، ادبیات کودک در افغانستان، انتشارات سعید، کابل، ۱۳۸۹.

شعور، اسدالله، ترانه‌های کهسار، وزارت اطلاعات و فرهنگ، ۱۳۵۳، کابل.

شهرانی، عنایت الله، دوبیتی‌های تاجیکی بدخشان و تخار، ، کابل موسسه انتشاراتی الازهر، ۱۳۸۹.

شهرانی، عنایت الله، فرهگ عامیانه تاجیکی بدخشان، ۱۳۸۷، بی جا.

شهرستانی ، شاه‌علی اکبر، ادب عامیانه‌ی هزارگی دری ، مجله‌ی ادب، شماره‌ی سوم ۱۳۵۲.

ACKU

ضیاءالحق ضیاء، ادبیات فولکلوریک محلی: زون کابل، ۱۳۸۵ ، مطبعه صدیقی کابل، ۵۰ صفحه

قاضی زاده، احمد نبیل، فرهنگ عامیانه بدخشان، کابل، قرطبه، ۱۳۹۵

قویم، عبدالقیوم، ادب عامیانه دری تخار، مجله‌ی ادب، شماره‌ی سوم ۱۳۵۲.

کاظمی، محمد کاظم، شمشیر و جغرافیا، نشر سپیده باوران، مشهد، ۱۳۹۲.

کاظمی، محمد کاظم، پیاده آمده بودم، سوره مهر، تهران، ۱۳۸۸.

مجموعه از فلکلور عامیانه زبان دری شامل: سرودها، رباعیات، دوبیتی‌ها، ضرب المثل‌ها و چیستان‌ها، افسانه‌ها، روایات و لطیفه‌ها، نشرات کتابخانه کیومرث، 1370، کابل.

محمد ابراهیم، افسانه‌های فلکلوریک غرجستان، کابل ، اکادمی علوم ،۱۳۶۸.

محمدی، محمد حسین، بود نبود، بودگار بود: افسانه‌های افغانستان برای کودکان و نوجوانان، ۱۳۹۶، انتشارات تاک، کابل.

میرپور، میرعبدالقدوس ، ضرب المثل‌ها و کلمات قصار، پشاور : [بی نا]، ۱۳۷۴.

واحدی ، تقی، گل قاقا ( مجموعه افسانه‌های هزاره‌ای). کابل، ۱۳۸۶.

ACKU